الحاج غرزي خواخوږی
د خواخوږی ادبي او کلتوري ټولني مشر

نیټه 08/02/2010

# دخواخوږی ادبي او کلتوري ټولني پیغام

په ډېره خواشینی سره مو خبر ترلاسه کړ چي د پښتونخواه ستر شاعر، لیکوال، سیاست پوه او مبارز شخصیت اجمل خټک د دي فاني نړي څخه سترګي پټي کړي.

## انا لله انا الیه راجعون

ارواښاد اجمل خټک چي یو انقلابي شاعر او هڅانده لیکوال، د نیمي پیړي څخه ډېر کلونه د ولس د ویښتابه او د خپلواکي غوښتونکي غورځنګ د مشرانو څخه ګڼل کیږي، د ښکیلاک او پوځي واکمنانو پر خلاف یې جیلونه او جلا وطني ګاللي خو د خپل مقدس او ملي هیلو څخه ندئ پر شا سوي.

خټک صاحب یو حساس پیاوړي شاعر او لیکوال او تل د افغان ولس ریښتني دوست او خواخوږی ؤ چي آثار یې په افغانستان او پښتونخواه کي د ولسونو او نوي نسل د منلو او احترام وړ او پیړي پیړي وروسته به هم په ولس کي خپل مقام ولري.
د خواخوږی ادبي او کلتوري ټولني مشرتابه پلاوي او ټول غړي د ارواښاد اجمل خټک مړینه یوه ملي او لویه ضایعه بولي، ارواښاد ته جنت الفردوس، کورنی، علمي او فرهنګي ټولنو او ټوله پښتونخواه ته د خواخوږي مراتب وړاندي کوي او د خداي (ج) د دربار څخه ټولو ته د زړه صبر غواړي.
روح دي ښاد وي.

په درنښت



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ